# Agreement Letter

Date: 2024-02-07

دا چې د الکترونیکي دولتدارۍ زمانه ده  تجارت، اقتصاد، طیب او ان ټولنیز ژوند ټول کارونه نن  صبا د کمپیوټر او انټرنیټ له لارې ترسره کیږي.  نو په همدې اساس باندې (د اووم  کلیک سافټویر جوړولو) کمپنۍ هم په یو داسې اپلیکیشن باندې کار ترسره کړی دی. چې د  تولیدي او ټریډ کمپنیو، ګودامونو او شرکتونو ټول تجارتي کارونه به د یاد سیستم له لارې په ډیرې چټکتیا سره ترسره کیږي. سیستم د استعمالوونکي لپاره د آرامۍ زون راوړي او د وخت ضایع کیدو مخه نیسي. همدارنګه سیستم به په ډیرې اسانۍ سره ورځنۍ، هفته وار، میاشتینۍ، کلنۍ، او  همدارنګه د دوه تاریخونو ترمنځ  راپورونه په ډیری اسانه سره راویستلی شي.

یاد سیستم په لاندی برخو باندی مشتمل دی چی لاندی به د هری برخی ځانګړی تشریح ترسره او د وایګل تولیدی شرکت لپاره مونږ. نوموړی سیستم په دوه انسټینسو یا دوه ځایه انسټالوو چی د وایګل شرکت لپاره باید سیستم ټول هغه کارونه ترسره کړی چی په همدی قرارداد کی به یی یادونه ترسره کیږی. او دی سره یو ویب سایټ او  همدارنګه د ټوکن لپاره د  QR-code سیستم هم د یاد قرارداد برخه ده.

سیستم باید د وایګل شرکت لپاره کاروبار د لاندو برخو مدیریت ترسره کړی.

1. د فروشاتو مدیریت.
2. د خریدارۍ مدیریت.
3. د ګدام دارۍ مدیریت.
4. مالی او خسابی مدیریت.
5. د کارمندانو مدیریت.
6. د سیستم د استعمالوونکو مدیریت.
7. د ټول سیستم د سیټینګ یاد تنظیماتو مدیریت.

نوموړی سیستم به په ډیره ساده بڼه جوړ وی او  همدارنګه اووم کلیک کمپنی به د وایګل تجارتی شرکت د دی سیستم استعمالوونکو ته ځانګړی ټراینګ او  همدارنګه لاربښود ویډیو ګانی هم برابروی.

د اووم کلیک کمپنی د همدې اپلیکیشن یا ډاټابیس پرسر باندې د وایګل د رنګ جوړولو  او  خرڅولو کمپنی سره قرارداد په لاندې ټکو ترسره کوي چې یاد اپلیکیشن به لاندې ټولې چارې او کارونه په منظم شکل سره ترسره کوي.

### ❖ د فروشاتو مدیریت

1. سیستم به د مشتریانو اکونټونه یا خسابونه ثبت کوي.
2. سیستم به د مشتریانو لپاره بیلونه ثبت کوی او جوړوي.

Samiullah janikhil Co-founder of Waygal Green
Phone : 0782592949

Yasin Momand Founder & CEO
Phone: 0771172665

3. سیستم به د مشتري لپاره د بیل د پرینټ کولو وړتیا ولري چې فارمټ به یې د وایګل شرکت له لورې ټاکل کیږي.

4. سیستم به د مشتریانو رسیدونه ثبت کوي.
5. سیستم به د مشتریانو پیشکي پیسي یا Advance پیسی هم ثبت کوي.
6. سیستم به د مشتریانو بلانسونه ښایی.
7. سیستم به ټول Account Receivable اکونټونه ښایي او یا هغه اکونټونه چی له مونږ نه باقی دی ښایی .
8. همدارنګه سیستم به یاده چاره یا کار د یو او د ډیرو مشتریانو لپاره ترسره کوي .
9. سیستم به پورته یادو ټولو برخو لکه مشتریان، بیلونه، رسیدونه، پیشکي، بلانسونو د راپورونو د راویستلو ، پرینټ کولو وړتیا ولري.

## ❖ د خریدارۍ مدیریت:

1. سیستم به د Suppliers اکونټونه یا خسابونه ثبت کوي.
2. سیستم به د خریدارۍ بیلونو د سپلایرس لپاره جوړوي.
3. سیستم به د خریدارۍ فیمنټونه ثبت کوي.
4. سیستم به د خریدارۍ لپاره یو supplier اډوانس پیسي چې ورکول کیږي ثبت کوي.
5. سیستم به د سپلایرس بیلانسونه راویستلی شي.
6. سیستم به ټول اکونټونه پیبل یا Accounts Payable ښایي یا هغه سپلایرس چی مونږ تری باقی یو ښایی.
7. سیستم به یاده چاره یا کار د یوه او همدارنګه څو سپلایرس لپاره ترسره کوي.
8. سیستم به د پورته ټولو یادو شوو برخو لکه سپلایرس، بیلونو ، پرداختونو، پیشکیانو، بیلانسونو، Account Payables راپورونو د پرینټ کولو وړتیا ولري.

## ❖ د ګدام مدیریت :

1. سیستم باید د شرکت او یا دوکان د ټولو جنسونو د ثبت او راجسټر وړتیا ولري.
2. کله چې د کمپنۍ فروشات ترسره کیږي په اتومات شکل باندې سیستم باید د دې وړتیا ولري چې پلورل شوی مال د ګدام نه کم کړي.
3. کله چې د یوه جنس اندازه په ګدام کی ۵،۳،۲ او یا د کمپنی د ګدام د اصولو مطابق مشخص شي په ګدام د موادو یا اجناسو اندازه هماغه حالت ته راورسیږي نو سیستم باید په اتومات شکل سره پیغام ورکړي چې ستاسو په ګدام کې دا شی دې اندازې ته رارسیدلی دی.
4. سیستم باید د ګدام راپور په داسې شکل سره برابر کړي چې معلوم شي چې ستاسو په ګدام کې دومره جنسونه دي دومره پرې مصرف راغلی او همدارنګه چې خرڅ شي دومره پیسي جوړوي او ترڅنګ یې دا هم درته مشخص کوي چې دومره به ګټه وکړي.
5. ترڅنګ یې سیستم باید په ګدام کی هرډول سرچ ترسره کړي چې پدې ډول خصوصیاتو مونږ سره څومره Items یا اجناس موجود دي.

Samiullah janikhil Co-founder of Waygal Green
Phone : 0782592949

Yasin Momand Founder & CEO
Phone: 0771172665

## ❖ مالي او حسابي مدیریت

1. د مصارفو مدیریت:

سیستم باید د کمپنۍ مصارف په مختلیفو پولي واحدونو کې په مختلیفو ګټګوریو کې ثبت کړي.

سیستم باید په ګټګورۍ شکل او همدارنګه د پولي واحد په شکل باندې مصارفو راپور پیدا کړي.

سیستم باید هفتوار، ورځنۍ ، میاشتینۍ او همدارنګه د دوه تاریخونو ترمنځ راپور په دقیق شکل سره برابر او همدارنګه د پرینټ وړتیا ولري.

2. د صرافۍ مدیریت:

سیستم باید ټول هغه صرافان ثبت کړي زمونږ کمپنۍ یا دوکان ورسره کاته یا حساب لرې.

سیستم باید د یادو صرافونو سره زمونږ د کاتو بلانسونه معلوم کړي

سیستم باید په مختلیفو پولي واحدونو کې د یادو صرافانو سره د کاتو ټرانزکشني ترسره کړي.

سیستم باید د صرافاتو د کاتو د راپور د راویستولو او همدارنګه د پرینټ کولو وړتیا ولري.

3. د دخل یا سیف مدیریت :

سیستم باید په اتومات شکل معلوم کړي ماښام زمونږ په دخل کې څومره پیسي دي

## ❖ د کارمندانو مدیریت:

1. سیستم باید ټول کارکونکي د یادې کمپنۍ ثبت کړي.
2. سیستم باید د کارمندانو اضافه کارې ثبت کړي..
3. سیستم باید د کارمندانو پیشکي ثبت کړي.
4. سیستم باید د کارمندانو د حاضرۍ د مدیریتی سیستم ولري.
5. سیستم باید د کارمندانو د تنخوا د مدیریتی سیستم ولري.
6. سیستم باید د پورته هرې برخي راپور د مشخصي میاشتي او یا د دوه تاریخونو ترمنځ پیدا کړي او همدارنګه د پرینټ وړتیا هم ولري.

## ❖ د کارخانې د شتمنیو مدیریت

1. سیستم باید د کارخانې د ټولې شیتمنۍ د ثبت کولو وړتیا ولري
2. سیستم باید یادې شتمنۍ راویستلو وړتیا ولري
3. سیستم باید د شتمنیو د راپور د جوړولو وړتیا ولري.
4. د کمپنۍ د شریکانو لپاره باید د اکونټ سیستم موجود وی چی د هر یوه سرمایه پکی جدا جدا معلومه وی.

Samiullah janikhil Co-founder of Waygal Green
Phone : 0782592949

Yasin Momand Founder & CEO
Phone: 0771172665

## ❖ د سیستم د استعمالوونکو مدیریت :

1. سیستم باید د کارونکو لپاره اجازي او صلاحیتونه جوړ کړلی شي
2. سیستم باید د کارونکو لپاره رول وټاکي
3. سیستم باید یو نوی کارونکی ثبت کړي

## ❖ ملاخظات

1. دعه اپلیکیشن به یو ویب بیس اپلیکیشن وي چې د انټرنیټ له لارې به د کمپیوټر پرمخ خلاصیږي.
2. د دې اپلیکیشن یا د ډاټابیس د سرور مصارف به د وایګل د کمپنۍ په غاړه وي.
3. د اووم کلیک کمپنۍ به د یاد ډاټابیس تر یوه کال پوری په قرارداد کې د ذکر شوې هر یوه برخې ساتنه کوي او که چیرې پکې کوم مشکیل رامنځته کیږي نو مشکیلات به یې حلوي.
4. د یاد ډاټابیس دوه ځای انسټالیشن لګښت (1000) امریکایي ډالر دي چې د کار له شروع به 40% مخکی ورکول کیږي چی تقریبآ 400 امریکایی ډالر کیږی او نوری 60% فیصده به د کار تمامیدو یا تکمیلدو وروسته ورکوی چی % 60 یا 600 امریکایی ډالر کیږی.
5. که چیرې د وایګل شرکت د قرارداد د مواردو نه بغیر کوم نوې فیچرغوښتنه کوي په یاد ډاټابیس کې هغه د وخت او شرایطو په نظر کې نیولو سره پرې نوی قرارداد ترسره کیږي.

Waygal Green Company Sign

---------------------------

OOMCLICK Company Sign

---------------------------------

Yasin Momand Founder & CEO
Phone: 0771172665

Samiullah janikhil Co-founder of Waygal Green
Phone : 0782592949